مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۱/۱۱/۰۸

# د پخلنځي وروستی ۷۵ دقیقې

## (طنز)

پوره اته بجې دي. د کور د ور قلف مې پرانیست. ټيټ شوي فیوزونه مې پورته کړل او په رڼا کې خونې ته ننوتلم. له ډېرې تنبلۍ له کرتۍ سره وغځېدم. لا مې ارام نه و کړی چې د ګېډې غم راپاڅولم او د شپې ډوډۍ تیارولو په فکر کې شوم.

۸:۱۰ – پخلنځي ته ننوتلم. په جالۍ کې درې کچالو داسې خړپړ او غونج غونج ښکارېدل، لکه لوړ پوړي مقامات چې د تېښتې په ورځ هوايي ډګر کې الوت ته په تمه وي.

اخوا یوه غټ پیاز له تودې هوا په استفادې شنه تیغنه وهلې وه. درې ځلور مړاوي مرچکي یې هم خواته غلي پراته وو.

توکرۍ ته مې ورپام شو؛ خو هغه لکه د مامورینو جیب، تشه توره وه.

یو شیبه په فکر کې لاړم، له ولږې سره د مقابلې د تدابیرو په سوچ کې غرق وم. په یوه کونج کې مې منې ولیدې. ژر مې راواخیستې. خو هغوی کې تور سوري جوړ شوي وو او پاسته پاسته چنجي ترې په فاتحانه انداز راوتل.

۸:۲۵ – چاینیر مې له اوبو ډک کړ. ما ویل هم به ترې کوزه کې اوداسه ته اوبه برابرې کړم او هم به ترې چای دم کړم. په ګازي نغري مې کېښود. کیلي مې تاووله، تق یې کاوه خو اور نه لګېده. ځو ځلې مې دا هڅه تکرار کړه. یوه شوم چې د ګازو درک نشته. بس ، چاینیر مې همغسې داسې پرېښود لکه د فتحې په اولو ورځو کې چې به دولتي موټرو تیل خلاص کړل او فاتحینو به همغه ځای په ځای پرېښودل.

۸:۳۰ - په سړو اوبو مې اودس وکړ. له لمانځه وروسته مې د رزق پرېمانه دعاوې وکړې او بیا خونې ته ننوتلم. یوه شیبه وغځېدم، ځان ته د داډ ورکولو لپاره مې نهر نهر خلک د زړه سترګو ته درول؛ خو ستونزه دا وه چې ما نه سهار سم چای ښبلی و او نه مې د غرمې ډوډۍ خوړلې وه. تلقیناتو د ولږې حقیقت ورک نشو کړای.

۸:۴۰ – ور وټکېده. خوشاله شوم، ما ویل که دعاوې قبولې شوې او اوس به د ګاونډي کوم ماشوم د خوړو له لوښي سره ولاړ وي. ور مې پرانیست، د ګاونډي کوچنی زوی و (دا چې ژوند ته یې خطر پیښ نشي، نوم یې نه اخلم!) خو بدبختانه تش لاسونه ولاړ و. سمدلاسه یې ویل:

کاکا، کچالو لرئ؟

ما ویل: هو، له اشپزخانې مې هماغه کچالو راواخیستل او بیا مې ورته ویل، زه لږ مخکې کور ته راغلم، کور کې ځوک نشته، کچالو هم خلاص شوي کنه ډېر به مې در کړي و. له دې مې موخه دا وه چې ګوندې د شپې ډوډۍ کې ما هم په یاد کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

۹:۱۰ – هره شيبه د ور د ټکا په فکر کې وم. خو انديښنه راسره وه، ما ويل که کتغ راوړي او، خدای مکړه، ډوډۍ ورسره نه وي بيا به څه کوم؟ ايسته مې د هغه کوم شيخ په کيسه ځان تلقين کړ چې ويلي يې و: د دين په لاره کې مو ډيرې سختې ګاللي، يو سهار حلوا نه وه بيا مو پراټې وخوړې!

نو ما ويل که وچه ډوډۍ ورسره نه وه، خير دی، کاشوغه به ور ته بنده کړم .همدې خيالونو کې وم چې ور وټکيده. په منډه ورغلم، هماغه ګاونډی ماشوم و. پتنوس ور سره و، کاسه پکې ايښې وه او لپاسه پرې دستپاک هوار و. په موسکا مې ورته ويل:

دې ته څه حاجت و، ما خپله ډوډۍ تياروله!

هغه ويل: کاکا، ستاسو کاسه، پتنوس او دستپاک مو کره پاتې ول، هه دا واخله. سبا مورې هم چيرته ځو.
لاسونه مې داسې سست شول چې نږدې به رانه تش پتنوس او کاسه هم غورځيدلې وه.

۹:۱۵ - ور مې پورې کړ. څو شيبې دهليز کې ولاړ وم، هيڅ نپوهيدم څه وکړم. تش لوښي مې هملته دهليز کې کېښودل د خوب د خونې په لور روان شوم او ځان سره مې غير ارادي دا ټپه ويلې:

ژوند ته په شاته ـ شاته ګورم
لکه بايللی جوار ګر چې کور ته ځينه

نعمان دوست

عقرب ۱۵، ۱۴۰۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ